**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوښتنې ځواب

## په تونس کې د فرانکوفون (فرانسوي ژبیتوب) سازمان ۱۸مه غونډه
(ژباړه)

**پوښتنه:**

په ۱۹-۲۰/۱۱/۲۰۲۲ نېټه، په تونس کې د فرانکوفون (فرانسوي ژبيتوب) سازمان ۱۸مه غونډه په داسې حال کې ترسره شوه چې د تونس ولسمشر د غونډې د پيل خبرې په فرانسوي ژبه وکړې. دا سازمان څه دی او چاته کار کوي؟ د تونس ولسمشر، قيس سعيد التونسي او له فرانسې سره د ده په اړيکو کې د دغې غونډې ارزښت څه دی؟ ايا د دې معنی دا ده چې په تونس کې د بريتانيې نفوذ په بشپړ ډول ختم شوی؟ الجزاير، چې د فرانکوفون سازمان غړی هم دی، ولې يې په دې غونډه کې ګډون ونه کړ؟ جزاک الله خيرا.

**ځواب:**

د لا ښه وضاحت لپاره لاندې موضوعاتو ته کتنه کوو:

۱- د فرانکوفون سازمان، يعنې د فرانکوفوني يا فرانسوي ژبيتوب نړيواله اتحاديه له ۸۸ دايمي غړو او څارونکو څخه جوړ دی؛ مرکز يې د فرانسې په پلازمېنه پاريس کې دی او له ۱۹۸۶ کال راهيسې هر دوه کاله وروسته يوه غونډه کوي. په غړو کې يې په ځانګړي ډول په افريقا کې د فرانسې پخوانۍ مستعمرې دي او په ټوله کې نور غړي هم لري؛ په غړو کې يې داسې هېوادونه هم شته چې په فرانسوي ژبه خبرې نه کوي او د فرانسې مستعمرې نه وې. اړينه نه ده چې د ياد سازمان غړي دې هرو مرو په فرانسه پورې اړوند وي، ځکه خو وينو چې ځينې غړي هېوادونه يې په فرانسه پورې تړلي دي او ځينې نه. په نړۍ کې د فرانسوي ژبې ويونکو شمېر کابو ۳۲۱ ميليونه اټکل شوی. دا سازمان په ۱۹۷۰م کال کې په دې موخه رامنځته شو چې – لکه په منشور کې يې چې اشاره ورته شوې- د غړو هېوادونو ترمنځ يې فرانسوي ژبې او دغه راز سياسي، تعليمي، اقتصادي او کلتوري همکارۍ ته وده ورکړل شي. دا سازمان د فرانسوي ژبې، فرانسوي ارزښتونو، د غربي مفاهيمو لکه؛ ډيموکراسۍ، سيکولريزم، عامه ازاديو، بشري حقونو او ښځو د حقوقو پر خپرولو تمرکز کوي. دغه بنسټ هڅه کوي چې د فرانسې په مستعمرو کې استعماري ميراث وساتي او د فرانسوي ژبې او کلتور په ترويج سره د فرانسې د نفوذ دوام ډاډمن کړي. دا د فرانسې لپاره د خپل استعمار د دوام، د قدرت او نفوذ پراخولو او د فرانسې د لويوالي د ساتلو تر ټولو مهم اړخ دی. فرانسې چې د ۱۹۶۰مو کلونو په لومړيو کې له خپلو مستعمرو ووتله؛ په دې اړه يې فکر وکړ چې د انګليس مشترک المنافع هېوادونو ته ورته سازمان جوړ کړي. د بريتانيې له لوري د مشترک المنافع هېوادونو سازمان په دې موخه جوړ شو چې په خپلو پخوانيو مستعمرو کې نفوذ وساتي؛ ځکه برېتانيه او فرانسه د نوي استعمارګر، امريکا له لوري پيل شوي کمپاين اړ کړي وو چې دغو مستعمرو ته رسمي خپلواکي ورکړي.

۲- د تونس ولسمشر قيس سعيد ډېر لېواله و چې د فرانکوفون غونډه په تونس کې وشي. نوموړي د پيل خبرې په دې موخه په فرانسوي ژبه وکړې چې له فرانسې سره خپل تړاو څرګند کړي او خپله دا موخه چې فرانسه به يې ملاتړ ته دوام ورکړي، ترلاسه کړي. نوموړي وويل: «زه باوري يم چې فرانکوفون غونډه به

زموږ ژمنتیاوې زموږ د خلکو، په ځانګړي ډول ښځو او ځوانانو په یووالي او محسوسو لاسته راوړنو بدلې کړي» (مونټ کارلو، فرانسه، ۲۰۲۲/۱۱/۲۱). قیس سعید ځکه دې غونډې ته لېواله دی چې د خپل حاکمیت لپاره ملاتړ پیدا کړي او ده دا ملاتړ په فرانسه کې موندلی، نوموړی غواړي چې خپلو کړنو؛ د پارلمان له لوري د منتخب حکومت پرځولو، د پارلمان منحلولو، د ۲۰۱۴ کال اساسي قانون لغوه کولو او د نوي اساسي قانون تصویبولو ته مشروعیت ورکړي. ګڼو خلکو له ډیموکراټیک پلوه، پر یادو کړنو اعتراض وکړ او دا یې ناقانونه او د ډیموکراسی ضد وګڼلې. له همدې امله، نوموړی په کور دننه او بهر له نیوکو سره مخ شو او په ۲۰۲۲/۷/۲۵ نېټه د ده له لوري وړاندیز شوي اساسي قانون ته په رایه ورکولو کې د خلکو ګډون کمرنګه و چې کابو ٪۲۷,۵۴ اعلان شو.

کله چې غربي هیوادونه او نور تونس ته راغلل، په غونډه کې یې ګډون وکړ او د تونس د ولسمشر پر کړنو د اعتراض په موخه یې یاده ناسته تحریم نه کړه؛ فرانسې هم هیڅ اعتراض ونه کړ او په تونس کې د ناستې په ترسره کېدو یې ټینګار کاوه. کابو ۸۹ پلاوو، چې ۳۱ دولتي او حکومتي مشران او د نړیوالو او سیمه‌ایزو سازمانونو ۷ مشران پکې و، په دې ناسته کې ګډون وکړ. له دې ښکاري چې د قیس سعید کړنو ته مشروعیت ورکول کېږي او واک یې پیاوړی کېږي.

۳- د فرانسې ولسمشر مکرون یو ځل بیا له قیس سعید څخه خپل ملاتړ اعلان کړ؛ ده وویل: «دا د فرانسې د ولسمشر کار نه دی چې د تونس ولسمشر ته ووایي چې د خپل هیواد په تړاو څه باید وکړي. قیس سعید ته د خپل یوه ملګري په توګه وایم چې فرانسه به د تونس ملاتړ وکړي، ځکه دا هېواد له انقلابه راوتلی، ترهګري یې ماته کړې او د نړۍ د نورو هېوادونو پشان له کرونا وایروس سره مخ دی.» نوموړي زیاته کړه: «زما په اند قیس سعید  غونډې یو لوی حقوقي کارپوه پر دې پوهېږي؛ څه وخت وړاندې مو چې سره وکتل، د بحث موضوع مو همدا وه. تونس اوسمهال یو سیاسي بدلون تجربه کوي. زه هیله لرم چې یاد بدلون به پایلې ولري او په راتلونکو ټاکنو کې به د تونس ټول سیاسي ګوندونه او ځواکونه برخه واخلي تر څو د سیاسي بدلون دا پړاو بشپړ شي.» ده وویل چې پر سعید یې بږ غ کړی «چې په سیاسي او اقتصادي کچه د یاد مسیر د بشپړولو لپاره د فرانسې-تونس د اړیکو شونتیاوې وڅېړي. فرانسې چې د دغې غونډې په مناسبت تونس ته ۲۰۰ میلیونه یورو ورکړې، دا د اساسي ازادیو او ډیموکراټیکو اصولو په اړه یو سپین چک نه دی.» (العربیه الجدید پاڼه، د فرانسوي د TV5 Monde په حواله، ۲۰۲۲/۱۱/۲۱). دلته مکرون اعلانوي چې فرانسه د تونس ولسمشر قیس سعید سیاسي او اقتصادي ملاتړ کوي؛ نوموړي ته د یوه ملګري په سترګه ګوري او د ده د ترسره کړو اقداماتو ملاتړ کوي، ځکه دی په قانون پوه سړی دی او هغه څه چې ترسره کوي د قانون له مخې یې ترسره کوي؛ یعنې د نوموړي اقدامات مشروع او د منلو وړ دي. مکرون ده ته ۲۰۰ میلیونه یور ورکړ، دا یو سپین چک نه و، بلکې د اساسي ازادیو او ډیموکراټیکو اصولو په نامه په فرانسه پورې د ده د تړاو په سبب و. اروپایي اتحادیې هم د تونس د بودیجوي کسر د مخنیوي لپاره د ۱۰۰ میلیونو سودي پور اعلان وکړ. کله چې قیس سعید خپل لومړنی بهرنی سفر کاوه، موخه یې فرانسه وټاکله او ۲۰۲۰م کال په جون کې یې دغه هېواد ته سفر وکړ؛ هلته یې د فرانسې ولسمشر، مکرون ته ځان سپک او سرټیټی وښود. ده د خپل پارلمان دا غوښتنه چې فرانسه دې د خپلې استعماري دورې لپاره بخښنه وغواړي، رد کړه او پر ځای یې د خوندیتوب غوښتنه وکړه او ۳۵۰ میلیونه یورو پور یې ترلاسه کړ. قیس سعید هغه څه ومونډل چې په فرانسه او اروپایي اتحادیه، چې فرانسه او جرمني یې مشري کوي، کې یې اړتیا ورته لرله.

۴- قیس سعید هغه وخت د فرانسې ملاتړ خپل کړ چې په ۲۰۲۱/۷/۲۵ نېټه یې پر حکومت کودتا وکړه. نوموړي پخپله وویل چې ده « په ۲۰۲۲/۷/۲۳ (له کودتا دوې ورځې وړاندې) نېټه له یوه فرانسوي پلاوي

سره وکتل؛ له دغه پلاوي سره د ليدو موخه طبي مرسته وه چې د کرونا وايروس د زياتېدونکو ناروغانو د درملنې او د دغه وايروس د مخنيوي په برخه کې د حکومت لاس ونيسي. دا ليدنه دغه راز د ځينو اقداماتو په بهير کې وشوه» ده اشاره وکړه چې «ياد اقدامات به د لوبغاړي له ضمني رضايت وروسته پلي شي.» له دې وروسته په ۲۰۲۲/۷/۲۵ نېټه د پارلمان دروازه وتړل شوه، حکومت يې وپرځاوه او اساسي قانون يې وځنډاوه. يو څو ورځې وروسته په ۲۰۲۱/۸/۷ نېټه مکرون خپل تونسي سيال ته وويل چې «فرانسه چمتو ده چې د تونس د ازادۍ ساتلو او دفاع لپاره د دغه هېواد تر شا ودرېږي.» د اليزې ماڼۍ په بيانيه کې راغلي چې «تونس د خپلو اقتصادي، ټولنيزو او روغتيايي ننګونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې پر فرانسه حساب کولی شي» (الجزيره، ۲۰۲۲/۱۱/۲۱). له دې ټولو څخه ښکاري چې قيس سعيد له فرانسې سره تړاو لري؛ د فرانسې په مرسته يې کودتا وکړه او ځواک يې ترلاسه کړ چې د پارلمان د منحلولو پرېکړه وکړي، حکومت راوپرځوي او يو داسې حکومت وګوماري چې مشري يې په فرانکفون خوځښت پورې تړلې ښځه وکړي او بيا اساسي قانون لغوه او پرځای يې بل اساسي قانون معرفي کړي.

۵- د غونډې په پای کې، يکشنبه، ۲۰۲۲/۱۱/۲۰، د تونس په جربه ټاپو کې، د رواندې بنسټ سرمنشي لويز مشکيوابو وويل، «جربې مور نه‌يلي نه کړو... تونس مور نه‌يلي نه کړو... مور د فرانکوفونې د راتلونکي او عصري کولو لور ته ګامونه اخلو... بايد هڅه وشي چې دا يو پل شي» ... مشکيوابو د افريقا په لويه وچه کې په فرانسوي ژبه د زده‌کړې د ودې په برخه کې د پانګونې غوښتنه وکړه او ويې وويل چې فرانسوي ژبه بايد په انټرنېټ او نړيوالو سازمانونو کې وي... (د فرانسې مونټ کارلو، ۲۰۲۲/۱۱/۲۱)

**په تونس کې د دغې غونډې جوړېدو، د ځای په اړه يې د فرانسې ټينګار، په فرانسوي ژبه د تونس د ولسمشر لخوا د غونډې د پيل خبرې، د مکرون لخوا د قيس سعيد ستاينه او د سازمان د سرمنشي وينا ... دا ټول د تونس له ولسمشر او فرانسوي ژبې څخه د فرانسې پراخ ملاتړ ښيي.**

۶- ايا د دې مانا دا ده چې په تونس کې يوازې د فرانسې نفوذ دی او د بريتانيې نفوذ پای ته رسېدلی دی؟ د دې پوښتنې ځواب مو په ۲۰۲۱/۸/۱ نېټه خپور کړی. زه هغه موضوع دلته هم را اخلم:

[د بريتانيې د دريځ له ارزونې ښکاري چې دوی په تونس پېښېدونکو پېښو هيښ کړي. د برېتانيا ګارډين ورځپاڼې د الجزيره نټ په حواله په ۲۰۲۲/۷/۲۷ نېټه «په تونس کې د کودتا په اړه د ګارډين نظر: پسرلی په ژمي بدل شو» تر سرليک لاندې مقاله کې ليکلي چې تونس د انقلاب ضد حالت تجربه کوي («د تلويزيون پر اداره د امنيتي ځواکونو بريد هېڅ ښه کار نه دی» دغه راز ليکي چې «خلک بې تفاوته دي او نا ليبرال مفاهيم ځکه منې چې ازادۍ او ډيموکراسۍ سياسي ثبات او اقتصادي وده نه ده رامنځته کړې. د دې پرځای فساد، تورم او بېکاري پر خپل ځای پاتې دي. په تونس کې يو پر دريمه برخه خلک وېره لري چې تېر کال د کورونا ناروغي تر خپرېدو وروسته حالت په شان به د خوراکي توکو له کمښت سره مخ شي او له افشا شويو اسنادو څخه ښکاري چې حکومت چمتو دی چې د پيسو نړيوال صندوق سره د ۴ ميلياردو ډالرو پور پر سر د خبرو اترو لپاره له خلکو سره د ډوډۍ مرسته بنده کړي؛ په تېرو لسو کلونو کې څلورم ځل دی چې د پيسو له نړيوال صندوق پور غوښتل کېږي؛ دې کار د خلکو غوسه راپارولې ځکه د حکومتي پورونو کچه په ملي سطحه زياته شوې او د اوسنيو پورونو کچه د هيواد تر روغتيايي بوديجې شپږ ځله ډېره ده... له دې هر څه سره، ښکاره ده چې په تونس کې د بريتاني نفوذ کمزوری شوی او سبب يې هم روان حالت دی. په دې وخت کې فرانسې ته موکه په لاس ورغله چې په قوت سره تونس ته دننه شي...»)

مور د پایلې په توګه ویلي وو: [ټولې نښې ښیي چې په تونس کې شخړه اصلاً د برېتانیې، چې پخوا یې په دغه هېواد کې لوی نفوذ درلود، او فرانسې، نوي او بې ثباته نفوذ لرونکي، تر منځ ده... له ټولو نړیوالو دریځونو ښکاري چې په تونس کې فرانسه له بریتانیې سره د واک نیولو په موخه ښکر په ښکر ده، خو دغه شخړه د اروپا دننه ده... ځکه خو د یوې اوږدې شخړې بڼه نه خپلوي. نو د جوړجاړي یوه لار به رامنځته شي او احتمالاً تونس به د برېتانیا له نفوذه خلاص نه شي. برېتانیه سیاسي ځیرکتیا لري چې له فرانسې سره نشته. [۱۴۴۲ هـ.ق کال د ذولحجې ۲۲مه - ۲۰۲۱/۸/۱م] د تېر سوال او ځواب پای.

**اوس له دې ښکاري چې په تونس کې د فرانسې نفوذ پیاوړی دی، د تونس ولسمشر قیس سعید د فرانسې پر پله پل ږدي او د برېتانیې نفوذ کمزوری او کم شوی دی. خو دا په دې معنی نه ده چې په تونس کې د بریتانیې نفوذ بیخي ختم او برېتانیې تونس پرېښی وي. د بریتانیې مزدوران په تونس کې فعال دي چې د برېتانیې پر سیاسي چالاکۍ تکیه کوي؛ فرانسه دا سیاسي چالاکي او ځیرکتیا نه لري.**

۷- دا چې الجزایر ولې په دې غونډه کې برخه وانه خیسته؛ لومړی، هغه د دغه سازمان څارونکی غړی دی، بشپړ غړیتوب یې نه لري ... دوهم، دا غونډه په داسې وخت ترسره شوه چې په الجزایر کې د فرانسې د استعماري دورې په سبب اعتراضونه روان دي او دا چې د هغې لپاره یې ښېنه غوښتل رد کړل، د رامنځته کړو تراژیدیو غرامت نه ورکوي، د خپلو ظلمونو او په ۱۹۶۰مو کلونو کې د الجزایر په صحرا کې د اټومي چاودنو پر ضد دوسیې نه پرانیزي؛ د دې تر څنګ یې د عربي ژبې او اسلام پر وړاندې جګړه روانه کړې او هڅه کوي چې فرانسوي ژبه پرې تحمیل کړي. په الجزایر کې د فرانسوي ژبې ویونکي یو پر درېیمه برخه کم شوي، نو الجزایر غواړي له فرانسوي ژبې ځان خلاص کړي. د الجزایر ولسمشر تونس او له فرانسې سره د دغه هېواد اړیکو ته په اشاره وویل: [فرانسه تل د الجزایر په اړه فکر کوي (د غبرګونونو په اړه یې اندېښنه لري)؛ ده دا خبره د یوه خبریال د دې پوښتنې په ځواب کې وکړه چې ایا فرانسه الجرایر ته د خپل ولایت په سترګه ګوري؛ ده د خبریال خبرې د «نه، نه» په ویلو ورلنډې کړې. د الجزایر ولسمشر زیاته کړه: «ستا هدف بل هېواد دی چې دوی دستورونه ورکوي او هغه یې په پټه خوله مني او پلي کوي.» ځینې کسان په دې اند دي چې د الجزایر ولسمشر اشاره تونس ته وه؛ په ځانګړې ډول کله چې د تونس ولسمشر فرانسې ته د خپل سفر پر مهال وویل چې تونس تر استعمار نه، بلکې تر خوندیتوب لاندې و... (الحوساري وېبپاڼه، ۲۰۲۱/۸/۷)].

ستاسې د معلوماتو لپاره؛ مراکش - چې د دغه سازمان غړی دی- هم په دې غونډه کې ګډون ونه کړ. له دې څخه ښکاري چې د الجزایر او مراکش رژیمونه د برېتانیې لاسپوڅي دي او له قیس سعید ځکه ملاتړ نه کوي؛ چې هغه د برېتانیې مزدور رژیم رنګ کړ او د فرانسې لمن یې ونیوله. داسې فکر کېږي چې دا کنفرانس د قیس سعید د ملاتړ او د ده هغو کارونو ته د مشروعیت ورکولو په موخه جوړ شوی و چې دی یې فرانسې ته نیږدې او له برېتانیا لرې کړ؛ د ده دا کار د هغه څه خلاف دی چې دا دوه هېوادونه یې کوي.

**۸- موږ په پایله کې پر دوو ټکو ټینګار کوو:**

**لومړی:** هر هغه څه چې فرانسه او فرانکفون سازمان او نور غربي هیوادونه د ډیموکراسۍ، ازادیو، بشري حقونو، د ښځو حقونو او د لږکیو د حقوقو تر نامه لاندې تبلیغوي، یوازینۍ موخه یې دا ده چې په دې هېواد کې خپل نفوذ وساتي؛ که دې موخې ته ورسېدل خو ښه ده، که نه نو له دغو نومونو د فشار د وسیلې په توګه کار اخلي. دغو هېوادونو لسیزې خپلې مستعمرې استعمار کړې وې، ان تر سلو کالو زیات؛ دوی په دغه موده کې نه ازادۍ مراعت کړې، نه د بشر حقونه او نه یې خیالي ډیموکراسي. دا ټول یې تر پښو لاندې کول،

خلک يې وژل، عزت او شتمني يې لوټل او حيثيت يې تر پښو لاندې کاوه، چې خپلې ګټې خوندي کړي او خپله دبدبه وساتي. دوی د خپلې ايډيالوژۍ دومره درناوی نه کوي او نه يې د پلي کولو دومره لېواله دي لکه څومره چې د خلکو د شتمنيو د لوټلو، د دوی د وينو زبېښلو او په بې وزلۍ، فقر او ناروغيو کې د دوی د پرېښودلو لېواله دي. کله چې فرانسه له خپلو مستعمرو ووته، فرانکفون يې تاسيس کړ؛ دا تش په نامه د فرانسوي ژبو وګړو سازمان دی چې موخه يې د خپل نفوذ ساتل او د خپلو ګټو خوندي کول دي. له فرانسوي ژبې يې يوازې د يوې وسيلې په توګه کار اخيسته.

**دوېيم:** په مستعمرو کې هغه سياستوال او ګوندونه يې چې ډيموکراسي او سيکولر مفاهيم يې منلي؛ اصلاح کوونکي نه، بلکې مفسدين دي؛ فاسد سياسي ليډلوری لري؛ له غرب او غربي فکرونو اغېزمن دی؛ دوی روزل شوي چې د غرب غلامي وکړي، هغه که برېتانيا وي، که فرانسه او که نوې استعمارګره امريکا؛ دوی د همدغو استعمارګرو په ملاتړ واک ته رسېږي.

**دا سياسيون او حکام بايد له هر سياسي ډګر او حکومتولۍ لرې کړای شي او خلک له هغو هوښيارو او مخلصو سياسيونو سره ودرېږي چې سياسي پېښو ته د اسلام له زاويې ګوري او په استعماري دولتونو پورې هر راز سياسي، استخباراتي، فرهنګي، اقتصادي يا پوځي تړاو ردوي؛ حلالرې د الله سبحانه و تعالی له کتاب او سنتو اخلي او د نبوت پر منهج راشده خلافت د تاسيس لپاره په قوت او حکمت کار کوي چې د اسلام احکام پلي شي ... د دوی دعوت د حق لارې ته دی او همدوی د حق لارې لارويان دي.**

**[وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ]**

**ژباړه:** «او د هغه چا له خبرې به ښه خبره د چا وي چې هغه د الله لور ته بلنه کوي، نېک عمل کوي او وايي چې زه مسلمان يم. » [فُصلت:۳۳]

۱۴۴۴ هـ.ق، د جمادي الاول ۴مه

۲۰۲۲م، د نومبر ۲۸مه